مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۵/۰۹/۲۹

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## یوویشتمه‌برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۳۴۳مه برخه

**د انقلاب زور خو دي ولید**
**ډیري ورینداري اوس لېورو ته ناستې دینه**

**زما اوربل تر نیم ډېر سپین شو**
**جانان پردي وطن کې څه لیدلي دینه**

**وطن کې خړه غریبي ده**
**وروکي مست نه دي چې د مور غبېره پرېبږدینه**

ښاغلي عبدالعزیز نائبي د خپلو دایمي همکاریو په لړ کې یو ځل بیا څو لنډۍ رالېږلي دي چې زه یې له ده نه په بیا بیا مننې، له تاسو درنو لوستونکو سره شریکوم:

**له ښتي توپ کړه بیا راتوپ کړه**
**که خوند یې درکړ تر سبا وهه توپونه**

**په ژړا راغله راته وایي**
**کمیس مې زوړ دی نور پرې نه کېږي ډولونه**

**ته مې د حال پوښتنه نه کړې**
**زه به پیریان په ځان تر کومه راولمه**

**پر دیوالو ختل مې زده کړل**
**د دلګانو سپي به ډیر وغپومه**

**سپینه خولګی دي لنګه غوا ده**
**په زره ظالمي یار دې وچه ډوډۍ خورینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په شرم اور پورې کړه یاره
غېږ کې مې نیسه زه سرو نیولې یمه

د جوارګر لالي دلاسه
د سرو ګوتمې مې په کمڅو ترلې دينه

پوره یو پاو زهر مې ورکړل
موزي مړ نه شو، د هندو قرضداره شومه

د زړګي زور مې پاتې نه دی
یاره کیسې دې لنډوه ستړې دې کړمه

توتان مې وخوړل مړه شوم
د دله خان د ډوډی څه پروا لرمه

ښه شو چې ژر درنه جدا شوم
د شرم ګوډیه په یاری دې شرمېدمه

که نصیبونه کنډولې وای
ما به دا خپل په دېواله ويشتلې وونه

د چا په خیال خاطر کې نه یې
یواځې زه لېونۍ زړه درپسې خورمه

د عاشقۍ محتاجه ژونده
مئین په یو یم خیال د ټول کلي ساتمه

لاس یې اتلس ځایه مات شه
که څوک مې ګوتې د لالي په بدن ږدينه

که د حیا خاطر دې نه وای
ما به دې نوم په چنارو لیکلی ونه

د خدای خدایي پکې ښکارېږي
د جانان سترګو ته حیران ودرېدمه

شوندې غوټۍ، سُنبل دې زُلفې
زنه دې سېب د ثمرقند، دُر دې غاښونه

ستا نازولی غږ مې واورید
زړه مې ارام شو اوس به وکمه خوبونه

له خپله یاره به وانه وړم
که د چړو په څوکو نوکې، نوکې شمه

خلک به نوې یاری وکړي
زه به زړې یاری ته ورکړم پیوندونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د یار تهمت د ډهلي تخت دی
چې د جانان په تهمت رنګ شوم پاچا شومه

پرېږده چې لوی واړه خبر شي
یا به مې درکړي یا به مړه درپسې شمه

زړګي مې تا وړی محبوبې
لکه رباب خالي ګوګل ناري وهمه

ستا به عادت وي بل به یار کړې
له ما نه نهکېږي بېننګه عادتونه

اول یې تول کړه، بیا یې یار کړه
بیا یې په سر باندې تړه درانه شرطونه

یار خو مې ته یې بل به نه کړم
که بل مې یار کړ په ایمان دې خواره شمه

په صبرولو چې صبریږي
پوه شه چې دا به دروغجنه مینه وینه

د نصیبونو فیصلې دي
د زړه په خوښه یاران چا موندلي دینه

د بېننګۍ لوبې دې وکړې
ما به دې خلکو ته د ننګ صفت کاونه

زما نه هر وخت مرور وي
لالی په خپلو بدو خاورې اړوینه

ژړا په خپله ځوانۍ راشي
ځومره به کبر مې وېل چې یار لرمه

پخوانی یار په مخه راغی
له خپلو بدو شرمېده ټیټ یې کتنه

غرور مې ښه درته معلوم دی
که دې په ضد کړم بیا به وکړې ارمانونه

قدر مې خپله د ځان کم کړو
په تش اواز به سلامي ولاړه ومه

د یاراني مطلب دې نه دی
د یو نیول، د بل شړل، خوند درکوینه

د خدای خدایي ته مې سلام دی
خیر که مې برخې له ازله خوارې دینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د خدای په لوی کرم به کېږي
زما په فکر ببړی غرقه، غرقه ځینه

زما ویشتلی وزر جوړ شو
اوس به د ځینو نه اوچت الوت کومه

اسره مې ته شې لویه خدایه
د للمي ګل یم په باران ګوزران کومه

په لېونو سپو کې راګیر یم
یاران په غټو، غټو ګوري ما ترې خورینه

خدایه خپل ښه راته بدیږي
چا ته چې ښه ګورمه ډیر مې ژړوینه

په چا د کور غمونه بوج شي
په چا د یار غمونه سر وګرځوینه

ځان به له لوړ کمره ګوزار کړم
د دُنیا خلک مې ژوندون ته نه پرېږدینه

ربابه مات شې غمازګره
رایادوې اشنا په لرې وطنونه

سترګې په تلو کې راستنې کړه
د بیا راتلو دلاسه راکړه ګنې مرمه

لالی پښتو نیولی درومي
زه بې پښتو ښه یم راستون یې کړئ مئینه

اول دې راشي ما دې مړه کړي
بیا دې پردې وطن کې شپې سبا کوینه

تول مسافر به دوزخیان شي
د پښتنو پېغلو ازار وهلي دینه

ورک مسافر ورک یې یاري شه
د کلي ډم مېړه کوم په کور به وینه

له ښېلتانه سره مې جنګ دی
زما د ژوند غنم یې شنه ریبلي دینه

په مخکې ځم، په روستو ګورم
روغه عالمه د زړه سر مې پاتې شونه

کډې دې یوسي خفه نه یم
په شا دې نه ګوري چې زړه مې پسې چوینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له پټو زړونو خبرداره
پروردګاره لېونی یار پسې شومه

کور به مې ولې نه یادیږي
زه چې راتلم وړوو له پښنو نیولی ومه

وطن کې خړه غریبي ده
وړوکي مست نه دي چې د مور غېږه پرېږدینه

مسافري مثال دې مرګ وي
زه چې راتلم ځان مې په مرګ شمارلی ونه

داسې به ډیر کلونه تیر شي
زما او ستا به پکې نه وي دیدنونه

خدایه لالي ته مې نېږدې که
لس کاله کېږي په نامه یې ناسته یمه

نه به پخیر وطن ته ولاړ شم
نه به د هغې لیلا دور وګورمه

نه به هغه دوران بیا راشي
نه به دې وینم په نکریزو سره لاسونه

زما اوربل تر نیم ډېر سپین شو
جانان پردي وطن کې څه لیدلي دینه

وطنه خوند دې اوبو یوړ
نه مازدیګر شته نه دې پېغلو کتارونه

د بېوسی ناره مې وکړه
پردي پردي وو، خپلو واخیستل لاسونه

لیوني سپي رانه چارپیر دي
جانان په غتو، غټو ګوري ما ترې خورینه

ما ته د ژوند لارې ازغي دي
خدایه په کومه لاره کېږدم قدمونه

د سر دُښمن مې هوښیار خوښ دی
زه د کمعقلو په یاری ستومانه یمه

د خوشحالی بخت مې کوټه دی
غم مې د زړه په ډاګ خیمې وهلي دینه

د انقلاب زور خو دې ولید
ډیرې ورینداري اوس لبورو ته ناستې دینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**په مرګ به مرم پاتې به نه شم**
**تا نه دې مخکې شم چې درشي ارمانونه**

**په چا مې سترګي نه خوږيږي**
**بلا دې واخلم په ريښتيا  نيمګړې شومه**

**شال دې زما د خاک جنډه کړه**
**چې په لحد کې دې د څنو بوی راځينه**

**قبر ته راشه حال مې واخله**
**مېږي مې تورې څنې وړي په کتارونه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ